ډاکتر یارمحمد تره کی ۲۰۲۰/۰۶/۱۸

افغانستان – پور (کریدت) او د ورکړی کفایت

افغانستان د پور اخیستلو او بیا د هغه د ادا کولو په باب په نړی کښی تر ټولو بی اعتباره هیواد دی. نړیوال وجهی صندوق (International Monetary Fund – IMF) اټکل کوی چی افغانستان نه شی کولای چی د پورونو سود ورکړی او دا به ددی هیواد د خلکو پر اوږو یو نوی بار وی. په تیرو ۱۴ کلونو کښی څو نړیوالو موسسو او هیوادونو افغانستان ته ۱,۳ میلیارده ډالر پور ورکړی دی. د مالیی وزارت وایی چی د پور شرایط آسانه دی او هیواد باید دغه پور په ۲۵ کلونو کښی د سود سره ورکړی. دغه پور نړیوال بانک، د نړیوال وجهی صندوق، د آسیایی بانک، سعودی عربستان، فدراتیفی روسیی او نورو هیوادونو افغانستان ته ورکړی دی.
تیره میاشت افغانستان د نړیوال وجهی صندوق نه ۲۲۲ میلیونه ډالره د کرونا د وبا سره د مبارزی لپاره د عاجل پور په توګه اخیستی دی.
د نړیوالو موسسو او هیوادونو پورونه که څه هم چی آسانه شرایط لری خو په اوږد مهاله کښی د غریبو هیوادونو اقتصاد ته ډیر زیان لری. د مثال په توګه تر ۱۹۶۷ کال پوری افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو ۹۱۴۷۹۵۹۳ (یو نوی میلیونه څلور سوه نهه اویا زره او پنځه سوه دری نوی) ډالره پوروړی وو. د وخت په تیریو سره زمونږ هیواد د دغه پور یوویشت میلیونه ډالره سود او د مالی خدماتو فیس ورکړی دی. که دا په نظر کی ونیسو چی افغانستان د ۲،۵ ملیاردو ډالرو پور(د پژواک د خبری آژانس د خبر پر بنسټ) په کال کښی ٪۲ سود ورکړی نو کولای شو محاسبه وکړو چی په ۲۵ کلونو کښی به زمونږ هیواد په کال کښی ۵۰ میلیونه ډالره سود ادا کوی. دسود او مالی خدماتو سره به دغه رقم په ۲۵ کلونو کښی ۱،۲۵ میلیارده ډالرو ته جګ شی. یعنی افغانستان به ٪۵۰ سود او مالی خدمات ورکوی.

د نړیوال وجهی صندوق د اټکل له مخکی به د افغانستان کلنی نا خالص عواید -٪۳ وی. یعنی مثبت پرمختک خو نشته بلکه د هیواد به له خپلو زیرمو څخه تغذیه کوی. دا د افغانستان په تاریخ کښی (د طالبانو رژیم په حساب کښی نه راځی) لمړی ځل دی چی منفی پرمختګ به ولرو.
څرنګه چی افغانستان د نړیوال وجهی صندوق په لست کی د ۳۲۸ میلیونو ډالرو د پور وړتیا لری نو دولت هم پریکړه کړی ده تر څو دغه پیسی د خپلو پروګرامونو د عملی کولو لپاره په پور واخلی، هغه پروګرامونه چی خلکو ته پکښی وضاحت ندی ورکړ شوی.
د وجهی صندوق،نړیوال بانک او یا د یوه هیواد نه پور په کومو حالاتو کښی اخیستل کیږی؟

۱.په هغه حالت کښی چی یو هیواد ستر بنسټیز پروګرامونه ولری او د هغه دعملی کولو په موخه اضافه پیسو ته ضرورت ولری. په دی حالت کښی د پور اخیستونکی هیواد باید د دغه پور د اقتصادی ګټو ثبوت وړاندی کړی چی ددغه پور لګښت به په څو راتلونکو کلونو کښی هیواد ته ګټه راوړی

۲. په هغو حالاتو کښی چی یو هیواد په اقتصادی لحاظ د ماتی سره مخامخ وی او د ټولنیزو ناخوالو او انقلابونو د مخنیوی لپاره د پور اخیستلو ته اړ کیږی.

۳. په هغه حالاتو کښی چی په یوه هیواد کښی مفسدی کړی پر قدرت وی او د نړیوالو ادارو د پورورنو لپاره لاری چاری جوړوی او نوی پورونه اخلی. د دولت د اداری د وخت د تمامیدو سره د پور یوه اندازه پیسی په غیر ضروری او فساد باندی لګیږی او د نوی اداری په راتلو سره هغه د ستر اقتصادی ناورین سره مخه کیږی. یعنی د مخکینی اداری د غلط او بی ځایه اقتصادی پریکړو مسولیت پر نوی اداری لویږی.
په افغانستان کی تر یوی اندازی دا دری حالته حاکم دی. هیواد د جبهه ای جګړی د کمیدو او د جهادی قوتونو د خپلمنځی جګړو د زخمونو د التیام لپآره سترو بنسټیزو پروژو ته ضرورت درلود. که څه هم چی نړیواله ټولنه مکلفه وه تر څو د هیواد په بیا رغونه کښی خپل اخلاقی رول ولوبوی، خو بیا هم په ۲۰۱۱ کال کښی د حامد کرزی حکومت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کابل بانک د ډیوالی کیدلو په نتیجه کښی ۱۳۳ میلیونه ډالر پور کړی چی تر اوسه یی سود ورکول کیږی. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو نه بیا را په دیخواه هیواد د سیاسی ثبات د حالت نه نور هم پر شا شوی دی او د اقتصادی ودی کچه هر کال را ټیټیږی. ددی لپاره چی ددولت عادی ورځنیو کارونو ته دوام ورکړل شی او ځینی بنسټیزی پروژی تر کار لاندی راشی یوه اندازه نوری پیسی د نړیوالو بانکی موسسو څخه پور کړای شوی دی.

'PROGRESS'

که څه هم چی افغانستان د پاکستان ، برازیل، ارجنتاین، آیرلینډ او نورو سترو پوروړو هیوادونو په پرتله په ښه حالت کښی دی خوځرنګه چی هیواد د یوه ډالر سود د ورکولو توان نه لری نو د پیسو پورول په دی شرایطو کښی یوه لویه اقتصادی تیروتنه ده. که د هیواد دولتی موسسو او ادارو د سترو پروژو د پلی کولو وړتیا درولودلای نو بیا د پور کول او خلکو ته د کار زمینی ایجادول به منطق درلودلای. خو اوس چی هیواد په یو ستر اقتصادی سیاسی او حتی روغتیایی کړکیچ کی لاس او پښی وهی، د پور اخیستل به د هیواد راتلونکو ادارو ته یو ستر غم جوړ کړی.
بله موضوع د پور کول اصلی فلسفه ده چی پری باید خبری وشی.
ستر بانکونه او مالی موسسی غریبو هیوادونو ته پور په لاندی دلایلو ورکوی:

۱.د دی لپاره چی د دغو هیوادونو نه سود را ټول کړی

۲.د دی لپاره چی د دغه هیوادونو د مفسدو مشرانو سره داسی اړیکی جوړی کړی تر څو هیواد د نړیوال بانک او نړیوال وجهی صندوق د پالیسیو جیل ته واچوی

۳. د دی لپاره چی د لویدیځ نړیوال لیبرال اقتصاد پر غریبو هیوادونو ومنی او هغوی خپل پوروړی وساتی. په عین حال کښی د غریبو هیوادونو طبیعی ثروتونه لکه چای، طبیعی ډبری، تیل، ګاز، بوټی، او نور شیان په ارزانه بیه تری و پیرودی. دی ته وایی د تړاو تیوری (Dependency Theory)
اوس مهال د لویدیځی نړی ددیرو اتباعو د سهامو پیسی په غریبو هیوادونو کښی دوی ته سود راوړی. کټ مټ لکه یو چا چی کور په قرضه اخیستی وی. د بډای هیوادونو اتباع خپلی اضافه پیسی سترو بانکونو لکه نړیوال بانک، وجهی صندوق، د امریکا دولت، د قطر دولت او نورو ته په ډیرلږ سود ورکوی. دغه موسسات او دولتونه بیا پیسی هغو هیوادونو ته ورکوی چی د بیا ورکړی ظرفیت او قوت ولری. په لاره کښی ځینی وختونه دغه موسسات تاوان هم کوی. مثلاً که کوم چیرته رژیم نسکور شی او یا انقلاب وشی او نوی رژیم د پور د ورکولو نه منکر شی. ددی لپاره دوی خپل ځانونه بیمه کوی.
د غریبو هیوادونو د پور عمده دلیل د دی هیوادونو د نظامونو سستوالی، د هغوی په رژیمونو کی فساد او دیکتاتوری نظامونه دی چی اقتصادی فیصلی د یوه کس په لاس کښی وی. د ناسمو اقتصادی پالیسیو په نتیجه کښی عمومآهیواد د ډیوالی کیدو خواته ځی او یوه لاره پاتی شی او هغه هم د لوی پور اخیستل وی.
یوه متوسط اقتصاد لرونکی هیواد ته پکار ده تر څو هیڅ پور وا نه خلی خو که پور اخلی نو د دغه هیواد د پورپه پیسو جوړی شوی پروژی باید د ۳-۵ کلونوپه ترڅ کښي ګټه راوړی. په تیرو لسو کلونو کښی افغانستان نه د بنسټیزو پروژو لپاره بلکه د غیر ضروری او عادی مسلو لپآره پورونه کړی دی. د افغانستان تر ټولو لوی پور د کابل بانک د ماتیدو نه وروسته د حامد کرزی په وخت کی واخیسستل شو. تیره میاشت د کرونا سره د مبارزی لپآره هم یو عاجل پور واخیستل شو او دادی د هیواد د مالیی وزارت بیا د وجهی صندوق پور ته پروپوزل تیار کړی دی.
خرنګه چی په غریبو هیوادونو کښی د پور اخیستل بد تاریخ لری نو وړاندیز کیږی تر څو د هیواد د مالیی وزارت او حکومت په مجموع کښی د خپل ملی فعالیتونو ګذارش خلکو ته ورکړی. د پور کړای شویو پیسو د اخیستلو اقلام

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باید تشریح شی او ددی کار اقتصادی مطالعه دی د خلکو د معلوماتو لپاره نشر ته وسپارل شی. په دی صورت کښی به د هیواد ځینی روڼ آنده متخصصین د دولت اقتصادی پریکړی و ارزوی او د غلطو فیصلو په صورت کښی به خلکو ته په وخت ناره وکړی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ